



د مولانا سعید افغاني : آزاده ، ټولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# انجینر محب الرحمن « خطیبي »

د نشر نیټه : 14 نوامبر 2015 م

# آسمان یو دی

پاس په قصر او کوډلی آسمان یو دی
انتها کی زمونږ دټولو مکان یو دی
زه نه وایم چی دنیا پسی مه ګرځی
یا دژوند راحت ښکلا پسی مه ګرځی
خو د غلا خیانت ثروت نه ډېره وکړی
روا واخلی ناروا پسی مه ګرځی
آخرت کی خان غریب نه پرسان یو دی
پاس په قصر او کوډلی آسمان یو دی
صداقت او راستکاري ښه دی ای خلکو
رفاقت او غمخواري ښه دی ای خلکو
له نفرت او ورور وژنی نه لاس واخلي
عبادت او دینداري ښه دی ای خلکو
د نفرت او ورور وژنی نقصان یو دی
پاس په قصر او کوډلی آسمان یو دی
خپل وطن ته خیانت لویه ګناه ده
دپردي په خولی کول لویه جفا ده
لاس په لاس شی خدای لپاره افغانانو
دی وطن ته مو یووالی ښه دوا ده
محب وایي په هرګوټ کی افغان یو دی
پاس په قصر او کوډلی آسمان یو دی
***

محب الرحمن « خطیبي »

بازګشت به صفحه اصلی www.said-afghani.org